شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پراو ۱۱۱۳ ګڼه / چهارشنبه د صفرالمظفر ۷مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۳۱مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۲۲مه ۲۰۲۶ میلادي

ارسال کمک‌های اولیه برای سیلاب‌زدگان نورستان

وزارت دفـاع خبر داد کـه تیم‌های نجـات مربوط به قـول‌اردوی ۲۰۱ خالد بن ولیـد(رض) با هماهنگی سـایر نهادهای مسئول، در عملیات نجات و امدادرسانی به آسیب‌دیدگان سیلاب در شهر پارون مرکز ولایت نورسـتان مصروف فعالیت هستند. در خبرنامه‌ای این وزارت آمده است که این نیروها مقدار قابل توجهی از اقلام ضـروری و کمک‌های اولیه را برای هزاران تن از آسـیب‌دیدگان به محل رویداد ارسـال کردند که قرار اسـت میان خانواده‌هـای نیازمند توزیـع شـود. نیروهـای دفاعـی کشـور در تمامی حـوادث و آفات طبیعـی در کنار مردم ایسـتادند و حمایت، خدمت‌رسانی و رسیدگی به شـهروندان را از مسـئولیت‌های اساسی خود می‌دانند.

عزیزي انرژۍ شرکت د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید لپاره ټول تخنیکي وسایل پېرلي

د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني بـرادر اخوند پرون په خپـل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداکر او پانګوال ښاغلي میرویس عزیزي او د ده له تخنیکي ټیم سـره وکتل. د عزیـزي انـرژۍ پانګونې شـرکت عمومـي رئیـس میرویس عزیـزي وویل: د لـس زره مېګاواټه برېښنا د تولید لپاره یې ټول تخنیکي وسـایل پېرلي، چې ژر به یې هېواد ته د لېږد چارې پیل کـړي. ده زیاته کړه: په نړۍ وخـت کې به په هېواد کې د سـرطاني ناروغیـو د درملنې لوی روغتـون د جوړولو کارونه هم پیل کړي. ورپسـې د ریاست‌الوزراء د اقتصـادي معاونیت په مشـرۍ د اړوندو امارتي ادارو او عزیزي انرژۍ پانګونې شـرکت له اسـتازو څخه جوړې شـوې تخنیکي کمېټې خپل راپور وړاندې کړ. د راپور له مخې، د کابل ولایت په نغلو سیمه کې د ۱۰۰ مېګاواټـه لمریزې برېښـنا، د پروان ولایت په باریکاب سیمه کې د ۱۰۰ مېګاواټه لمریزې برېښـنا او په غزني ولایت کـې د ۱۳۱ مېګاواټه لمریزې برېښنا د پروژو د امکان... **۳مخ**

د سوداګرۍ او پانګونې خونې په مشرۍ سل کسیز سوداګریز پلاوی ازبیکستان ته تللی

د افغانسـتان د سـوداکرۍ او پانګونـې خونې عمومـي رئیس، سیدکریم هاشـمي، له ۱۰۰ څخه د ډېـرو سـوداګرو او پانګوالو په مشـرۍ ازبیکسـتان ته سفر کړی دی.

د دغه سـفر موخه د افغانستان او ازبیکسـتان ترمنځ د سـوداګریزو اړیکـو پراخول او د ګـډو پانګونو پـر فرصتونـو خبرې اتـرې دي.

ټاکل شـوې چـې افغـان پلاوی د ازبیکسـتان د سـیردریا ولایت له والـي، سـیمه‌ییزو چارواکو او سوداګرو سره وکوري.

دواړه لـوري بـه د اقتصـادي همکاریـو د پیاوړتیا او پانګونې په اړه کـډې غونډې ترسـره کړي. د سـیردریا د تولیدي فابریکو لیدنه هم د دغـه درې ورځني سـفر د پروګرام برخه ده.

شاهین:

د یوناما نوې مشره دې د افغانستان رښتینی انځور تر نړیوالو ورسوي

پـه دوحه کـې د اسـلامي امارت سفیر، سهیل شـاهین د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشـي د خانګړې استازي او د یوناما د مشرۍ په توګه د رباب فاطمې د ټاکل کېدو هرکلی کـړی او هیله یـې څرګنده کړې، چې نوموړې به د افغانسـتان دینـي او کلتـوري ارزښـتونو ته په پام سره، د شـته ستونزو د حل او له نړیوالې ټولنې سره د تعامل...**۳مخ**

کندهار؛ دامان ولسوالی کې د ۵۰ میلیونو افغانیو په لګښت معیاري روغتون جوړېږي

د عامې روغتیـا وزارت خبر ورکړی، چـې د کندهار د دامان ولسـوالی د عمومي روغتون د جوړېدو د بنسټ ډبره د عامې روغتیا د وزیر نورجلال جلالي له لورې کېښـودل شوه. دغه روغتون چې د شـاوخوا ۵۰میلیونو افغانیـو په لګښـت جوړېـږي، د ۱۸میاشـتو په موده کې به بشپړ او د سیمې اوسېدونکو ته به... **۳مخ**

آغاز روند تطبیق چهار پروژه انکشافی معارف در جوزجان

الحاج مولوی لعل‌جان راشد، رییس معـارف ولایت جوزجـان، هنگام افتتاح آغـاز کار این پروژه‌ها گفت: «این پروژه شـامل اعمـار و ترمیم صنوف درسی، سـاخت دیوارهای احاطـوی، نصـب دروازه‌هـای معیاری، حفـر چاه آب همـراه با ذخیره آب، سیسـتم انرژی آفتابی، دسـتگاه تصفیـه آب، ایجاد میدان بازی اطفال و ترمیم تأسیسات چهار مکتب در شـهر شبرغان و ولسوالی آقچه ایـن ولایت می‌باشـد که به همـکاری مالی موسسـه حمایت اطفال تطبیق می‌گردد.» ص۲

سر مقاله

د نورستان غمیزه او د اسلامي نظام نه سترې کېدونکې هلې ځلې!

د نورسـتان ولایـت په مرکـز پـارون او منـډول ولسـوالی کې وروسـتیو سـختو سـېلابونو یـو ځل بیا زمـوږ هېوادوال لـه یـوې دردوونکې غمیـزې سره مخ کـړل، چې د لسګونو کورنیـو ژوند یې اغیزمـن، کـن مالـي زیانونـه یې رامنځتـه او یـو شـمېر هېوادوال یې شـهیدان، ټپیان او لادرکـه کـړل.

په داسې سـختو شـېبو کـې د اسـلامي امـارت د ژغورنـې او د امنیتـي ځواکونو چټک حضـور او نـه سـترې کېدونکـې هلې ځلـې یقیناً پرتـه لـه مبالغې د سـتاینې وړ دي. د اسـلامي امـارت د ژغورنـې ډلـو او عامـو مجاهدینـو د خپلو هېوادوالـو د ژغورلـو لپـاره لـه هـر ډول امکاناتـو کار واخیسـت، لـه سـختو خطرونـو سـره مـخ شـول او آن یـو شـمېر یـې د خپـل ولـس د خدمـت پـه لاره کـې د سـر سـتره قربانـي ورکـړه. الله تعالـی دې د دوی دغـه سـتره قرباني پـه خپـل دربـار کـې قبولـه کـړي. د دغـو اتلانـو مېرانـه، ایثـار او د خلکـو د ژغورنـې روحیـه د سـتاینې او درنـاوي وړ ده او د دوی قربانـی بـه د ولـس پـه حافظـه کـې تلپاتـې وي. ان شـاءالله

لـه بلـې خـوا، د اسـلامي امـارت له لـوري د بېړنیـو مرسـتو برابـرول، د زیانمنو سـیمو ارزونـه، د ژغورنـې عملیـات او د اړمنـو کورنیـو لاسـنیوی د دولـت پـر مسـئولیت پذیـرۍ او ژمنتیـا دلالـت کـوي. دا ډول ناورینونـه ایجابـوي چـې ټولـې دولتـي ادارې، ملـي سـوداکر، خیریـه بنسـټونه او شـتمن هېوادوال د کډو مسـئولیت لـه مخـې د زیانمنـو کورنیـو لاسـنیوی وکـړي، تـر څـو پـر دوی غم کـم شـي او ببرتـه خپـل عـادي ژونـد تـه راوګرځـي.

د معتبـرو راپورونـو لـه مخـې، تـر اوسـه د یو شـمېر شـهیدانو جسـدونه موندل شـوي او کـن شـمېر هېـوادوال لا هـم لادرکـه دي. د وخـت او حالاتـو غوښـتنه دا ده چـې د ژغورنـې او لټـون عملیـات دې لا کړنـدي شـي او زیانمنـو سـیمو تـه دې ارینـې خوراکـي، روغتیایـي او د سـرپناه مرسـتې پـه ببرنې ډول ورسـول شي .

خـو لـه دې غمیـزې څخـه بایـد یو مهـم درس واخلـو، هغـه دا چې افغانسـتان د غرنیـو سـیمو او سـختو اقلیمـي بدلونونـو لـه املـه د طبیعـي پېښـو لـه کوابـو سـره مـخ هېـواد دی. لـه همـدې املـه د ناورینونـو د مخنیـوي او د زیانونـو د کمولـو لپـاره د سـېلابونو د خطـر د ارزونـې، د اسـتنادي ډېوالونـو او محافظتـي تأسیسـاتو د جوړولـو، د سـیندونو د مسـیرونو د منظمولـو، د ونـو د کرلـو، د هوا پېژندنـې د خبرتیـاوو د پیاوړتیـا او د چټکـو ژغورنیـزو تیمونـو ... **۳مـخ**

عقد تفاهمنامه همکاری میان وزارت اطلاعات و فرهنگ و پوهنتون‌های خصوصی

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت
د جهادي آثارو د ساتنې لوي ریاست
د خوانانو چارو ریاست
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د جهادي آثارو د ساتنې لوي ریاست اړوند د خوانانو
چارو ریاست او خصوصي پوهنتونونو سره د همکارۍ هوکړه لیکنو د لاسلیک
غونډې ته بلنه راغلاسته.
به مراسم امضاء توافقنامه های همکاری میان ریاست امور جوانان، ریاست عمومی
حفظ آثار جهاد وزارت اطلاعات و فرهنگ و پوهنتون های خصوصی خوش آمدید.

شریعت: مسـئولان ریاست امـور جوانـان، مربوط ریاسـت عمومی حفظ آثار جهادی وزارت اطلاعات و فرهنـگ، در راسـتای حمایـت از جوانـان و فراهـم سـازی زمینه دسترسی آسان‌تر آنها به تحصیلات عالی، طی نشسـت خبـری تفاهم نامه‌های همکاری را با شـماری از پوهنتون‌های خصوصی کشـور به امضا رسانیدند.

هـدف از امضای این تفاهم نامه‌ها، کاهش هزینه‌های تحصیلی و ایجاد تسهیلات بیشتر برای جوانان کشور عنوان شده است. مفتی محمد طاهر احمـد، رییس عمومـی حفظ آثار جهادی وزارت اطلاعات و فرهنگ، در این نشست گفت که جوانان نقش اساسـی در پیشـرفت و توسعه هر جامعه دارند و هر اندازه برای ارتقای ظرفیت‌های علمی و مسـلکی آنان سـرمایه گذاری و همکاری صورت گیرد، به همـان اندازه زمینه خدمت گـذاری بهتر آنها بـه جامعه فراهم خواهد شد. ص۳

کابل کې د تاجیکستان له سفیر سره پر ګډو امنیتي همکاریو خبرې وشوې

د دفـاع وزارت د سـتر درسـتیز د نظامي عملیاتـو رئیس، نورالرحمن نصرت، په کابل کې د تاجیکستان له سفیر سعدي شریفي سره کتلي دي.

د دفـاع وزارت د خبرپانې له مخې، پـه دې لیدنه کـې دواړو لـورو د افغانستان او تاجیکسـتان ترمنځ د سرحدي مسایلو، امنیتي موضوعاتو او د ګډو همکاریـو د پراختیا په اړه خبرې کړې دي.

دواړو خـواوو د دوه اړخیـزو اړیکو د لا پیاوړتیـا، متقابلو همکاریو او د ګډو ګټو پـه برخو کې د همغږۍ پر دوام هم ټینګار کړی دی.

د برېښنایي سکتور د پاوړتیا لپاره بنسټیزې هڅې روانې دي

د افغانستان برېښـنا شرکت عمومي اجرائیـوي رئیـس مـلا عبدالحق همـکار میدان وردګـو ولایت کې د یوې غونـډې پر مهـال ویلي، چې د هېواد په کچه د برېښـنا سـکتور د پیاوړتیـا په موخه یـوازې ټېره اوونۍ ۶۵ نوي قراردادونه لاسـلیک شوي دي. نوموړي دغه څرګندوني د میدان وردګو د برېښنا ریاست د... **۳مخ**

د دبګرام ـ جبل السراج دویم لین سړک د قیر اچونې چارې پیل شوې

د ټولګټو چـارو وزارت خبر ورکړی چـې د بګـرام لـه دوه‌لارې څخه د پروان ولایت د جبل‌السراج ولسوالی تر بـازار پورې د کابل-پـروان دویم لین سـړک د پاتې برخو د قیر اچونې چارې رسماً پیل شوې. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، دغه سړک ۲۵.۶ کیلومتـره اوږدوالـی او ۱۱.۲ متـره پلنوالی لري، چې د پاتې... ص۲

د افغانستان لاس موټرو د ثبت پروسه تمدید شوه

د مالیـې وزارت خبر ورکړی، چې د دوی په وړاندیـز، د کابینې پر تایید او د حکومت د مشرتابه په منظورۍ د افغانسـتان لاس د بې‌اسنادو «یو کیلـي» موټرو د ثبـت او محصول پروسـه د روان ۱۴۰۵ کال تـر پایه تمدید شوه. د یاد وزارت په وینا، دغه پروسـه د هېواد په اوو زونونو کابل، هرات، بلـخ، ننګرهـار، کندهار، کندز، خوست او پکتیا ولایتونو کې پیلېږي. یاد وزارت ویلي: د موټرو د ثبت او محصول پروسه... **۳مخ**

د نورستان د پارون له سېلاب ځپلو هېوادوالو سره د همدردۍ، قدردانۍ او مرستې غږ!

قاري بدرالدين فراهي

وړمه ورځ د ۱۴۴۸هجري قمري کال د سفرالمظفر مياشتې په پنځمه نېټه د افغانستان د ختيځ ولايت نورستان مرکز پارون ښار له يوې درنې طبيعي پېښې سره مخ شو. سختو او ناخاپي سېلابونو نه يوازې د خلکو کورونه، شتمنی او بنسټيز تاسيسات ويجاړ کړل، بلکې د کنړ شمېر بې ګناه هېوادوالو ژوند يې هم واخيست. دا يوه ستره غمېزه ده چې د هر دردمند انسان زړه دردوي او تولنه د ژور غم پر تغر کېنوي.

په داسې سختو او بحراني حالاتو کې د اسلامي امارت د اړوندو ادارو او نظامي منسوبينو چټک، صادقانه او له اخلاصه ډک غبرګون د قدر او ستاينې وړ دی. هغه منسوبين چې د ولس د ژغورنې لپاره د سېلابونو منځ ته ور دننه شول، خپله يې هم د خطرونو پروا ونه کړه. دا د خدمت او قربانی هغه لوړه بېلګه ده چې په تاريخ کې به د تل لپاره ثبت پاتې شي.

په ډېرې خواشينې سره بايد وواياو، چې د يادې سيمې ښاروال او د عملياتي کنډک قوماندان هم د ولس د خدمت په لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. ويل کېږي چې ښاروال هغه مهال له خپل پرسونل سره د سېلاب ښکار شو، کله چې د ښارواليۍ ودانۍ د سېلابي اوبو له شدته ونړېده او هلته مېشت ټول کسان يې له ځان سره يورل. دا پېښه د هغوی د اخلاص، مېرانې او نه ستړې کېدونکې خدمت ژوندي ثبوتونه دي. دوی وښوده چې د ولس خدمت يوازې شعار نه، بلکې يو عملي مسئوليت دی چې حتی د سر په بيه هم ادا کېږي.

اسلامي امارت په چټک ډول سيمې ته تازه دمې ځواکونه واستول، د ژغورنې چارې يې پيل کړې او سېلاب ځپلو ته يې عاجلې خوراکي او غير خوراکي مرستې ورسولې. دغه اقدامات د دې ځرګندونه کوي چې نظام د خپلو خلکو تر ځنګ ولاړ دی او د ستونزو په وخت کې يې يوازې نه پرېږدي، لا هم د نظام منسوبين په پوره اخلاص سره د خلکو په خدمت بوخت دي، چې دا خپله د مسئوليت منلې او ژمنتيا ښکاره ثبوت دی.

خو دا حقيقت هم بايد هېر نه کړو چې د دې ډول پراخو طبيعي افتونو زيانونه يوازې د يو نظام يا يوې ادارې له لوري په بشپړ ډول نه شي جبرانېدلی. دا يو ملي او انساني مسئوليت دی چې ټولنه يې بايد په ګډه ادا کړي. له همدې امله، د هېواد له شتمنو کسانو، سوداګرو، خيريه بنسټونو او ټولو هېوادوالو ځخه هيله کېږي چې د خپلو سېلاب ځپلو ورونو او خويندو لاس ونيسي. دا هغه وخت دی چې د وروروليۍ، انسانيت او اسلامي همدردۍ رښتينې امتحان اخلو.

مرسته يوازې مالي نه ده؛ هر ځوک کولای شي د خپل وس او توان په اندازه مرسته وکړي. که هغه خوراکي توکي وي، درمل وي، جامې وي يا مالي مرسته وي، هره کوچنۍ مرسته د يو لوی درد دوا کېدای شي. زمونږ دا يو ګډ مسئوليت دی چې د خپلو هېوادوالو درد خپل درد وبولو او د دوی د ژوند د بيا رغونې لپاره هڅه وکړو.

مونږ يو ځل بيا د اسلامي امارت د ټولو منسوبينو، ژغورونکو خواکونو او اړوندو ادارو د نه سترې کېدونکو خدمتونو او قربانيو قدردانې کوو او د لوی خدای له دربار ځخه ورته اجر او بريا غواړو. همداراز، د هغو شهيدانو لپاره چې د ولس د خدمت په لاره کې يې خپل ژوند له لاسه ورکړ، د فردوس جنت غوښتنه او کورنيو ته يې د جميل صبر دعا کوو.

راځئ چې په دې سخت وخت کې سره يو موتی شو، خپل مسئوليت ادا کړو او د نورستان د سېلاب ځپلو هېوادوالو لاسنيوی وکړو.

د نفتو او ګازو دولتي شرکت...

په ټاکل شوې او مناسبه بيه ترلاسه کړي او په بازار کې د بيو د بې نظمۍ مخه ونيول شي. د نفتو او ګازو دولتي شرکت ويلي: اوس مهال د دغه شرکت په پلورنځيو کې د مايع ګازو بيې په ولايتونو کې توپير لري؛ چې د کابل او پروان ولايتونو کې يو کيلوګرام مايع ګاز په ۶۶ افغانيو، په بدخشان کې په ۶۷ افغانيو، په بلخ کې په ۶۴ افغانيو او په هرات کې په ۶۰ افغانيو پلورل کېږي. د شرکت د مسئولينو په وينا، د مايع ګازو د عرضې او پلور په برخه کې د خلکو ارتياوې، د بازار وضعيت او د سيمو شرايط په پام کې نيول کېږي، ترڅو هېوادوال وکولای شي دغه سونتوکي په اسانه او مناسبه بيه ترلاسه کړي.

د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت ټينګار کړی چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د پلور مرکزونو د فعاليت پراخلو هڅې روانې دي او هڅه کېږي چې د مايع ګازو د رسولو لړی لا پراخه شي، ترڅو د ښارونو ترځنګ د لرې پرتو سيمو اوسېدونکي هم ورته لاسرسی پيدا کړي.

بارندګي شديد و سيلاب...

منزل مسکونی به گونه کلی و قسمی تخريب شده است.

وی افزود که تيم سروی اين اداره در محل رويداد حضور دارد و پس از تکميل ارزيابی خسارات، روند کمک رسانی به خانواده‌های آسيب ديده آغاز خواهد شد.

د تقوی جامه غوره لباس دی!

امان الدين فرخاري

قرآنکريم کې الله تعالی فرمايلي: کله چې هغوی دواړو (آدم او حوا [عليهما السلام]) د هغې ونې ميوه وڅکله؛ نو عورتونه يې ښکاره او دواړو پر خپلو عورتونو د جنت د ونو پاڼې ننبلول شروع کړل. الاعراف: ۲۲

په دې ايت کې د هغې صحنې بيان دی، چې په جنت کې له ادم او بي بي حوا عليهما السلام څخه د هغې ونې د مېوې د خوړلو له امله؛ چې خدای پاک ترې منع کړي وو، جنتي جامې ولوېدې او دوی په بېړه د خپلو عورتونو د پټولو هڅه وکړه.

همدا راز په دې ايت کې خدای پاک له انساني عورت څخه په « سَوْاٰة»(هغه شی چې انسان يې ښکاره کول بد ګڼي) تعبير کړی، په دې دې ته اشاره ده؛ چې د خپل يا د نورو د عورتونو صريح نوم اخيستل له مروڅت خلاف او ګناه لري.

همدا ډول دې ايت کې د ادم او حوا عليهما السلام له لورې د خپلو عورتونو د پټولو لپاره د جنت د ونو د پانو کارول رابنيي؛ چې د خپل عورت پټول د انسان فطري غوښتنه ده او عقلاً او فطرتاً انسان د بل چا پر وړاندې خپل عورت لوڅول نه خوښوي.

همدا ډول خدای پاک د اعراف سورت په ۲۶ ايت کې فرمايي: ای د ادم اولادې! ما ستاسي لپاره داسې لباس نازل کړی، چې پټ او د شرم ځايونه مو پرې پټېږي او ستاسي د ښايست سبب ګېږي او د تقوا جامې، همدا غوره دي، دا د الله تعالی د قدرت له نښو څخه دي، تر ځو تاسي پند واخلئ.

په دې ايت کې خدای پاک د لباس يادونه د يوه نعمت په ډول کړې ده او د لباس دوه بنسټيزې موخې؛ چې يوه يې د عورت پټول او بله ښکلا ده بيان کړي

د دې ايتونو او ځينو حديثونو په استناد علماوو د شرعي/ اسلامي او غير اسلامي لباس ځينې ځانګړتياوې او دولونه بيان کړي، غواړو دلته يې لنډ غورچاڼ را واخلو.

لومړی: شرعي لباس بايد ستر پټوونکی وي. پورتني ايت کې د لباس يوه موخه د ستر پټول بيان شوې؛ له دې معلومېږي؛ چې شرعي لباس بايد دومره پراخ او ازاد وي؛ چې د نارينه عورت (له نامه تر زنګنونو) او د مېرمنو ټول بدن؛ چې عورت دی، ترې ښکاره نشي او نه يې د بدن او عورت حجم پکې مالوم شي.

او که کوم لباس دومره تنګ، لنډ او نری وي؛ چې عورت يا د عورت حجم پکې ښکاري شرعي او اسلامي لباس نه بلل کېږي او اغوستل يې د انساني فطرت خلاف او ګناه ده، چې د عورت د ښکاره کېدو په صورت کې لمونځ هم نه ورسره کېږي او د عورت د حجم د ځرګندوالي په صورت کې لمونځ ورسره مکروه دی.

دوهم: ښايست، ايت کې د لباس دوهمه موخه دا بيان شوې؛ چې جامې د انسان د ښکلا لامل کېږي، له دې معلومه شوه؛ چې خان او عورت پټول ښايست او بر بنډتوب بدرنګي ده او دا هم ترې فهمېږي؛ چې انسان بايد ښايسته او پاک کالي پر تن کړي او د خيرنو او بدرنګو کاليو له کارونې ډډه وکړي.

حديث کې راځي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغی؛ چې خيرنې او ځرې جامې يې پر تن وې، رسول الله صلی الله عليه وسلم، ترې د اقتصادي وضعې پوښتنه وکړه...

سړي وويل: د الله رسوله هر څه لرم، خدای پاک دېر مال او دولت راکړی.

رسول الله ورته وويل: الله تعالی دا خوښوي، چې پر تا د خپل نعمت اثر وويني، يعنې چې خدای وسه درکړې، بايد قېمتي او پاکې جامې واغوندې.

خپله رسول الله صلی الله عليه وسلم هم قېمتي جامې اغوستې، تر دې چې يو ځادر يې دوه زره ديناره قېمت لاره. همدا راز امام مالک رحمه الله به هره ورځ نوې جوړه په تن کوله، د ورځې په پای کې به يې هغه صدقه کوله او سبا ته به يې بله جوړه اچوله، خو که د چا د قېمتي کاليو وسه نه وي، بايد پاکې جامې واغوندي.

البته قېمتي او ښايسته کالي د فخر، کبر او ځان ښودنې په نيت نه، بلکې د خدای پاک د نعمت د ځرګندونې لپاره بايد پر تن کړای شي.

دريېم: د اسلامي لباس دريېم شرط دا دی؛ چې د کافرانو له جامو سره به ورته والی او مشابهت نه لري، ځکه حديث شريف کې له کافرانو سره په کړو وړو کې له مشابهته منع شوې، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: چا چې له کوم قوم سره مشابهت وکړ، له همغوی څخه شمېرل کېږي.

البته علماء وايي: يو تَشَبُّهْ دی او بل مشابهت، تشبه په لوی لاس او په قصدي ډول له يو چا سره ځان ورته کولو ته وايي. د بېلګې په ډول که يو ځوک په دې نيت پتلون، نېکټايي او د بدن بڼه د کافرانو په څېر جوړوي، چې هغوی غوندې ښکاره شي؛ دا حرام دي او سخته ګناه لري.

او مشابهت بيا دې ته وايي، يو شی چې په خپل ذات کې يې کارول روا وي او يو ځوک يې له بل چا سره د ځان مشابه کولو په نيت نه، بلکې د ارتيا له مخې يې کاروي، خو په عين وخت کې هغه شی کافران هم کاروي، دا ډول مشابهت که څه هم حرام نه دی، خو بيا هم ترې ځان ساتل پکار دي.

ځلورم: د شرعي لباس بل اصل دا دی؛ چې د نارينه وو جامې د مېرمنو او د مېرمنو به د سړيو له جامو سره ورته والی نلري، ځکه حديث کې له ښځو سره له مشابهت کوونکو سړيو او له نارينه وو سره پر مشابهت کوونکو ښځو لعنت ويل شوی.

علماوو له کافرانو او مېرمنو سره په کاليو کې د مشابهت د ناروا والي يو لامل دا بيان کړی؛ چې لباس د انسان پر باطن او زړه اغېزه کوي.

که انسان شرعي لباس اغوندي، زړه کې يې د نېکيو جذبه پيدا کېږي، نېکو عملونو ته هڅېږي او که غير شرعي د کافرانو، کبر جنو او ظالمانو لباس اغوندې په زړه کې يې کبر او د نورو ګناهونو جذبه پيدا کېږي.

عمر فاروق رضی الله عنه يوه ورځ د جمعې د لمانځه لپاره يوه چپنه پر تن کړې وه، له لمانځه وروسته يې ښېرته ووېسته او ويې ويل: دې سره مې زړه کې کبر او لويي پيدا شوه.

پنځم: د شرعي لباس يو شرط دا دی؛ چې د نارينه وو جامې به د خالص سره رنګ والا نه وي؛ ځکه په حديث شريف کې، له داسې جامو منع شوې ده، همدا راز په احاديثو کې د سپين رنګ لباس اغوستل غوره ګڼل شوي.

البته مېرمني د سره رنګ والا لباس اغوستلی شي.

شپږم: د تقوی لباس الله پاک د ايت په پای کې فرمايي: او د تقوی لباس همدا غوره جامه ده، يعنې له ټولو غوره معنوي لباس د يوه مسلمان لپاره تقوی ده، چې دی په هر حال کې له الله وډار شي او د لباس او نورو احکامو په اړه د هغه جل جلاله امر ومني.

پايله دا شوه؛ چې مسلمانان د ژوند په ټولو چارو کې لله الحمد ښکلي، معقول او عملي اصول لري، له مستقل کلتور او فرهنګ څخه برخمن دي، ښکلې درنه او با وقاره جامه لري، دوی بايد د هغو شرقي او غربي کافرانو؛ چې د ژوند اصول يې له مسلمانانو زده کړي او د تمدن او انسانيت درس مسلمانانو ورښودلی، تقليد ونه کړي.

مسلمانان بايد له کافرانو هغه علوم چې بنسټ يې خپله مسلمانانو اينبی؛ خو د دوی د کمزورۍ او بې همتی له امله کافرانو په هماغو علومو کې پر مختګ کړی، زده کړي، نه داچې په بربنډ توب کې د هغوی تقليد وکړي.

د دنيوي ژوند عزت، ترقي او پرمختګ پر ظاهري او معنوي اسبابو ولاړ دی؛ چې ظاهري يې ټول اړين عصري علوم زده کول، ساينسي پرمختګ، قوي نظامي، اقتصادي، سياسي او نفوذي ځواک لرل او معنوي يې پر خپل دين په بشپړ ډول عمل کول دي.

د بربښنا عمومي رياست ويانډ محمد صادق حقپرست:

افغانستان به اوس ولې ترقي نه کوي؟

د بربښنا په برخه کې داسې پروژې هم شته چې شرکتونه يې د ترون له مخې په دوو کلونو کې سرته رسوي، خو زمونږ د بربښنا شرکت خپلو کارکوونکو هغه کارونه په درېيو مياشتو کې سرته ورسول او هغه د لويو لارو لينونه چې په تېرو جګړو کې په مرميو لګېدلي وو او زيانمن شوي وو، له بهرنيو او داخلي شرکتونو سره يې چې د جوړولو خبره وشوه، نو د يوه لين په جوړېدو يې له ۲ زرو تر ۷ زرو ډالرو پورې غوښتنه کوله، ځکه دا دېر له خطره ډک کارونه وو، خو زمونږ د لوړ ولتاژ ملګرو چې ورته متې رانغښتې، نو په ۵۰۰ افغانی سفر خرچ باندې يې دغه لينونه ورغول. همداسې په هلمند کې د بربښنا يوه پروژه چې شرکتونو يې په دېر افتخار سره په دوو کالو کې د جوړولو ټټر واهه، خو زمونږ د بربښنا شرکت کارکوونکو همدغه پروژه په کم لګښت په ۳ مياشتو کې سرته ورسوله. دا ټولې هغه پروژې دي، چې د تېرې کابل اداري په وخت کې بهرنيو کمپنيو په انتهايي لوړ قېمت دغه پروژې مخته وړلې، ځکه په داخل کې مونږ مسلکي افراد د دغو پروژو لپاره نه درلودل، خو لله الحمد اوس په خپل وطن کې دغه پروژې د خپلو افغانانو پر مټ په دېر کم لګښت او په لوړ کيفيت مخته وړو، چې کله د افغانانو تر منځ تعهد او ژمنتيا وي، نو وطن به ترقي کوي او هرومرو به جوړېږي، خو که تعهد او ژمنتيا شتون ونه لري، نو که ځومره دېرې پيسې، پرېمانه مسلکي خلک او له ټولې دنيا سره اړيکې نورمالې وي، نو وطن به مخ پر ځور وي؛ چې تېره شل کلنه د کابل اداره يې ژوندی مثال دی.

برګزاری کنفرانس علمی ...

کنفرانس بين‌المللی ديګری درباره سلطان حسين بايقرا با همکاری کشورهای منطقه در هرات برګزار شود. در اين نشست، نمايندګان قنسولګری‌های ترکيه، ايران و ترکمنستان نيز حضور داشتند و بر اهميت شناخت و معرفی شخصيت‌های تأثيرګذار تاريخ و تمدن اسلامی تأکيد کردند. در همين حال آقای تزجان قاضی اوغلو، سرکنسول جمهوری ترکيه در هرات با اشاره به مشترکات گسترده فرهنګی و تاريخی ميان افغانستان، ايران و ترکيه ګفت که اين کشورها از ګذشته تاکنون پيوندهای عميق تمدنی داشته‌اند و پاسداری از اين ميراث مشترک، زمينه‌ساز تقويت روابط فرهنګی و علمی خواهد بود.

همچنين آقای مهدی حسينی، نماينده فرهنګی جمهوری اسلامی ايران ګفت که جمهوری اسلامی ايران آمادګی دارد در برګزاری کنفرانس‌های علمی، انجام پژوهش‌های مشترک و معرفی هرچه بهتر شخصيت‌های برجسته تاريخی و فرهنګی منطقه با افغانستان همکاری کند.

آغاز روند تطبيق چهار ...

رييس معارف جوزجان تصريح کرد که با تکميل اين پروژه‌ها، بيش از يک‌هزار و ۵۰۰ شاګرد از امکانات آموزشی بهتر و محيط مصئون و معياری بهره‌مند خواهند شد. در همين حال، الحاج مولوی عبدالله سرحدی، والی جوزجان، سرمايه‌ګذاری در بخش معارف را سرمايه‌ګذاری برای آينده کشور دانست و تأکيد کرد که توسعه زيربناهای آموزشی، زمينه ارتقای کيفيت تعليم و تربيه را فراهم می‌سازد. وی ضمن قدردانی از نهادهای همکار، خواستار ادامه حمايت از بخش معارف شد. در همين حال، شماری از باشندګان محل با استقبال از آغاز اين پروژه‌ها، آن را ګامی مهم در رفع مشکلات زيربنايی مکاتب و بهبود شرايط آموزشی فرزندان‌شان عنوان کردند.

نړيوال خيريه بنسټونه دې له هېوادوالو...

په لړ کې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارووزارت ويانډ، عبدالمطلب حقاني وويل: پر نورو ولايتونو سربېره دا ځل د ملک سلمان خيريه بنسټ له لوري له ۳۰۰۰ اړمنو کورنيو، بېرته راستنېدونکو او داخلي بې ځايه شويو سره مرسته کېږي؛ خو نظر د کډوالو د راستنېدو بهير ته دغه مرستې بسنه نه کوي او اړتيا ده چې مرستې زياتې شي. د ياد بنسټ له لوري د هېواد دننه له ۶۰ زرو کورنيو سره مرستې په نظر کې نيول شوې وې چې مستحقو کورنيو ته وېشل شوې دي. د حقاني په خبره: له بهرنيو هېوادونو څخه چې کوم کډوال راستنېږي، ډېرو مرستو ته اړتيا لري، نو له دوی سره د کډوالو په را ايستلو سره افغانستان په سخت وخت کې دی، نو هيله کېږي چې ټول نړيوال بنسټونه، خيريه موسسې او ملت ورسره مرسته وکړي. د ده په وينا: د کډوالو په راستنېدو سره مو ملت بشپړېږي او هر ځوک مسئول دی چې د سرپناه تر ځنګ په اړينو برخو کې ورسره مرستې وکړي. اوس هم د ډېرو موسسو او کورنيو او نړيوالو خيريه بنسټونو له لوري ورسره مرستې کېږي؛ خو د دوی د ټولو اړتياوو بسنه پرې نه کېږي، نو په کيفيت او وېش کې يې زياتوالی په کار دی. ببرنی مرستې لنډمهالي دي، که خيريه موسسې او نړيوال مرستندوی بنسټونه په افغانستان کې بنسټيزې پروژې پر مخ بوزي، نو له دوی سره به په راتلونکي کې اوږدمهالې مرستې وکړای شي.

په ورته مهال د توحيد موسسې په استازولی ابراهيم فضلي وويل: د ملک سلمان خيريه بنسټ له لوري د يو کال په موده کې له ۶۰ زرو کورنيو سره د خوراکي توکو ۶۰ زره بکسې مرسته شوې چې په کې مرسته ترلاسه کوونکو ته ۵۰ کيلو اوړه، ۵ کيلو لوبيا، وريجې، بوره او غوړي وېشل شوي دي چې د ټولو مرستو ټوليز لګښت څه باندې ۳ ميليونه ۶۵۲ زره ډاله دی او هر ولايت کې ارمنو ته په مساوي ډول وېشل شوي دي. له ايران څخه راستون شوی هېوادوال، ذکي وايي: د کورنيو او نړيوالو خيريه بنسټونو او موسسو له لوري چې له مورد سره کومې مرستې کېږي، لنډمهالي دي او هېڅ راز ستونزه نه پرې حل کېږي، نو د دې پر ځای دې مورد ته پراختيايي پروژې په لاره واچوي تر څو حلاله نفقه پرې وکټو او د مرستو په تمه پاتې نه شو. بل لور ته د اقتصادي چارو کارپوه، جهانګير ناصري وايي: پر مرسته د کورنيو اقتصاد وده نه کوي، بلکې د ورځو ستونزې يې ورسره حل کېږي. هغه نړيوال بنسټونه چې د افغانستان دننه له بېوزلو سره مرستې کوي، د هغو پر ځای دې د کارخونو، فابريکو او توليداتو په برخه کې پانګونه وکړي چې له يو لوړې يې کورنی اقتصاد وده وکړي او له بل لوري د لنډمهالو مرستو د ترلاسه کولو پر ځای دايمي کار ته لاسرسی ولري.

زيارمل هوتک

د بګرام ـ جبل السراج دويم لين...

د کابل-پروان دويم لين سړک د هېواد له مهمو ترانسپورتي مسيرونو څخه شمېرل کېږي، چې پلازمېنه کابل له شمالي ولايتونو سره نښلوي. د دې سړک په بشپړېدو سره به د وسايطو په تګ راتګ او د سوداګريزو توکو او کرنيزو محصولاتو په لېږد رالېږد کې اسانتياوې رامنځته شي. د ټولګټو چارو وزارت ټينګار کړی چې د ترانسپورتي زېربناوو د پراختيا ترڅنګ د نيمګړو او پاتې پروژو د بشپړولو لپاره هم هڅې روانې دي، څو هېوادوالو ته معياري او دوامدار ترانسپورتي خدمات برابر شي.

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه ۲۵ قلم تجهیزات برقی و ۸ قلم مواد ساختمانی ضرورت جنکشن اول کابل برشنا را تحت شماره کابل برشنا- ۱۴۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۱۰ با شرکت تولیدی وسایل برقی سلیمان احسان امین دارنده جواز نمبر ۱۸۴۱۴۷ و با داشتن محل اصلی تجارتی }ولسوالی بگرامی،شهرک صدرالعظم ناحیه ۱۲، مرکز، کابل افغانستان} را مبلغ ۱۲۵۴۷۵۳ یک میلیون دو صد و پنجا و چهار هزار و هفت صدو پنجا و سه افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه ۲۵ قلم تجهیزات برقی و ۸ قلم مواد ساختمانی ضرورت جنکشن اول کابل برشنا را تحت شماره کابل برشنا- ۱۴۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۱۰ با شرکت تولیدی وسایل برقی سلیمان احسان امین دارنده جواز نمبر ۱۸۴۱۴۷ و با داشتن محل اصلی تجارتی }ولسوالی بگرامی،شهرک صدرالعظم ناحیه ۱۲، مرکز، کابل افغانستان} را مبلغ ۱۲۵۴۷۵۳ یک میلیون دو صد و پنجا و چهار هزار و هفت صدو پنجا و سه افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد تهیه و تدارک تجهیزات برقی امور ساختمانی جنکشن سوم ضرورت کابل برشنا را تحت شماره کابل برشنا- ۱۴۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۱۵ با شرکت تولید وسایل برقی سلیمان احسان امین دارنده جواز نمبر ۱۰۷۳۲۵ و با داشتن محل اصلی تجارتی }ولسوالی بکرامی شهرک صدرالعظم ناحیه ۱۲، مرکز، کابل افغانستان} را مبلغ ٦١٤٢٦٠ شش صدو چهارده هزار و دو صد شصت افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تقرری

قرار است محترم احسان الله فرزند محمد ابراهیم دارنده تذکره شماره (۵۵۱۶۰- ۰۷۰۰- ۱۴۰۳) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسوولیت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت. ۳۷۸۰

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود وزارت شهرسازی ومسکن درنظردارد تا پروژه تهیه و تدارک ۴۰ قلم روغنیات و فلتریاب مورد ضرورت سال مالی ۱۴۰۵ دارای کودتدارکاتی MUDH/1405/NCB/G-1307 به شرکت خدمات لوژستیکی و تجارتی بلال عیسی زاده دارنده جواز نمبر ۷۴۵۲۲ به قیمت مجموعی مبلغ ۲،۱۵۳،۱۰۰ دو میلیون و یکصدو پنجاه و سه هزارو صد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی (۵) روزکاری طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی ومسکن واقع مکروریان سوم، ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه

اسامی محترم محمد خالد فرزند محمد نواب مالک (بشر طبی لابراتور) که قبلا ذریعه مکتوب شماره ۵۵۶۶۲۸ مورخ ۱۴۰۰/۵/۳۰ رسما از طریق این ریاست در مربوطات ناحیه ۴ شهر کابل افتتاح گردیده ، اکنون طی درخواستی جداگانه به مقام محترم وزارت صحت عامه خواهان لغو دایمی لابراتور طبی خویش گردیده است که مقام محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند.

اشخاص ، موسسات و دوایر امارتی که در مورد لابراتوار فوق الذکر ادعا داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به ریاست تنظیم و هماهنگی سکتور خصوصی وزارت صحت عامه مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل می باشد.۳۷۸۱

***

اعلان داوطلبی

موضوع: پروژه تهیه و خریداری پرزه جات وسایط مورد نیاز وزارت اطلاعات و فرهنگ

شماره داوطلبی: MOIC/G-13/NCB/1405

آمریت تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی: پروژه تهیه و خریداری پرزه جات وسایط مورد نیاز وزارت اطلاعات و فرهنگ با شماره داوطلبی MOIC/G-13/NCB/1405 اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوط را از آمریت تدارکات- مدیریت عمومی تدارکات بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۵-۰۵-۱۴۰۵ به وزارت اطلاعات و فرهنگ واقع چهار راهی ملک اصغر، ناحیه دوم، روبروی وزارت امور خارجه، آمریت تدارکات، مدیریت عمومی تدارکات منزل اول ارایه نمایند. و آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر الزامی نبوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱۵-۰۵-۱۴۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات تدویر میگردد.

نوت: آنعده داوطلبان که پرسش داشته باشد می تواند ۳ روز قبل از ضرب الاجل تسلیمی آفر به آدرس متذکره مراجعه نمایند.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اساس امریه شماره (۰۱۰) مورخ (۱۴۴۷/۰۹/۰۲) و قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده میشود، معینیت تصدی ملی محافظت عامه در نظر دارد، پروژه ترمیم اساسی جنراتو پارکنز ۶۴۰ کیلو وات[۸۰۰] کی وی ای مدیریت حفظ و مراقبت معینیت تصدی ملی محافظت عامه بابت سال مالی ۱۴۰۵. را به مبلغ مجموعی (۷۰۷،۵۶۵/۵) اووه سوه او اووه زره او پنځه سوه او پنځه شپیته اعشاریه پنځوس افغانی به شرکت خدماتی لوژستیکی شاه فیصل فهد دارنده جواز نمبر (۵۳۳۱۵) که آدرس آن آقا علی شمس ناحیه هفتم مرکز کابل کابل بوده اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت (۳) روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات، محترم معینیت تصدی ملی محافظت عامه ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده، الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به اساس امریه شماره (۰۱۰) مورخ (۱۴۴۷/۰۹/۰۲) و قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده میشود، معینیت تصدی ملی محافظت عامه در نظر دارد، پروژه تهیه و تدارک ۷ قلم عینیات البسوی برای پرسونل (ریاست سکتور خصوصی؛ دولتی خود کفا و قرارگاه تصدی معینیت تصدی ملی محافظت عامه بابت سال مالی ۱۴۰۵. را به مبلغ مجموعی (۱۷،۴۵۴،۶۱۶/۲۰) هفده میلیون و چهار صد و پنجاه و چهار هزار و ششصد و شانزده اعشاریه بیست افغانی به شرکت تولید البسه حمزه رازق دارنده جواز نمبر (۸۴۶۶۱) که آدرس آن چهلستون جنکلک ناحیه ۷, مرکز کابل, کابل بوده اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت (۳) روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات، محترم معینیت تصدی ملی محافظت عامه ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده، الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اساس امر شماره (۰۱۰) مورخ (۱۴۴۷/۰۹/۰۲) وزارت امور داخله در رابطه به ترتیب و طی مراحل پروسه قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده میشود، معینیت تصدی ملی محافظت عامه در نظر دارد، پروژه تهیه وتدارک ۲ قلم اجناس مخابروی مورد نیاز های مربوط جز وتامها و مفرزه های مربوط ریاست محافظت پروژه های بین المللی تحت اثر معینیت تصدی ملی محافظت عامه از بابت سال مالی ۱۴۰۵} پروژه متذکره را به مبلغ مجموعی (۱،۹۶۰،۰۰۰) یک میلیون و نهصد و شصت هزار افغانی به شرکت تجارتی امیر حمزه اخندزاده دارنده جواز نمبر ۸۳۳۱۶ که آدرس شهرنو مقابل هوتل شهرنو ناحیه ۱۰ م مرکز کابل کابل بوده اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت سه روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات، محترم معینیت تصدی ملی محافظت عامه ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده، الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اساس امر شماره (۰۱۰) مورخ (۱۴۴۷/۰۹/۰۲) وزارت امور داخله در رابطه به ترتیب و طی مراحل پروسه قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده میشود، معینیت تصدی ملی محافظت عامه در نظر دارد، پروژه تهیه و تدارک ۲ قلم اجناس مخابروی مورد نیاز قطعات؛جزوتامها و مفرزه های مربوط ریاست محافظت سکتورهای خصوصی تحت اثر معینیت تصدی ملی محافظت عامه از بابت سال مالی ۱۴۰۵. پروژه متذکره را به مبلغ مجموعی (۲،۰۷۰،۰۰۰) دو میلیون و هفتاد هزارافغانی به شرکت تجارتی امیر حمزه اخندزاده دارنده جواز نمبر ۸۳۳۱۶ که آدرس شهرنو مقابل هوتل شهرنو ناحیه ۱۰ م مرکز کابل کابل بوده اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت (۳) روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات، محترم معینیت تصدی ملی محافظت عامه ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده، الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اساس امریه شماره (۰۱۰) مورخ (۱۴۴۷/۰۹/۰۲) و قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده میشود، معینیت تصدی ملی محافظت عامه در نظر دارد، پروژه تهیه و تدارک ۲۵ قلم اجناس تکنالوژیکی مورد ضرورت ادارات مرکزی تحت اثر معینیت تصدی ملی محافظت عامه از بابت سال مالی ۱۴۰۵. پروژه متذکره را به مبلغ مجموعی (۱،۵۴۲،۲۵۰) یک میلون و پنجصد و چهل و دو هزار و دو صد و پنجاه افغانی به شرکت تجارتی بهزاد شهزاد کامگار دارنده جواز نمبر ۵۱۱۷ که آدرس آن فروشگاه جمهوریت مارکیت, مرکز کابل, کابل بوده اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت (۳) روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات، محترم معینیت تصدی ملی محافظت عامه ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده، الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه مفقوی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه ۱۳ برچی ایستگاه نقاش به اسم شیر محمد فرزند غلام علی مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۸۰۲

***

اطلاعیه مفقوی

یک قطعه جواز تثبث حاجی جمعه نوروزی فرزند حاجی محمد کرم تاجر انفرادی نمبر ۳۲۳۳۹ مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۷۶۷

سنګين کې له دوو روغتيايي...

خدمتونو د پياورتيا او د روغتيايي مرکزونو د ارتياوو د پوره کولو لپاره وکارول شي. ياد طبي کېټونه د نړيوال سره صليب اداري د هلمند د دفتر د رئيس الحاج ډاکتر عبدالباقي حنفي له لوري د سنګين د ولسوال حاجي لالا په حضور کې د دواړو روغتيايي مرکزونو مسئولينو او روغتيايي کارکوونکو ته وسپارل شول. د يادونې وړ ده، چې د نړيوال سره صليب اداري له کلونو راهيسې د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې د روغتيا، بېرنيو مرستو او نورو بشرپالو خدمتونو په برخه کې فعاليت کوي او د ارمنو خلکو د روغتيايي ارتياوو د پوره کولو لپاره خپلو همکاريو ته دوام ورکوي.

ده‌ها ټُن مواد تاریخ...

پکتیا به هدف تطبیق قانون و تأمین سلامت صحت مردم، به هیچ تاجری اجازه نمی دهد که مواد بی کیفیت و قاچاقی را وارد کشور و یا به بازار عرضه کند. همچنان نماینده گمرک پکتیا، از تاجران و فروشندگان خواست که از وارد کردن و فروش موارخوراکی، بهداشتی و دوای بی کیفیت و تاریخ گذشته جداً خود داری کنند.

د افغانستان لاس موټرو...

کې يې د هېوادوالو اقتصادي وضعيت په پام کې نيولی او لويه سلنه تخفيفونه هم ورکړل شوي دي. د دغې پرېکړې پر اساس له ۱۹۹۰ تر ۲۰۰۴ ماډل ساده موټرو ته ۳۵ سلنه او له ۲۰۰۵ څخه تر وروستي ماډل ساده موټرو ته ۶۰سلنه تخفيفونه او ساده زغرول يو کيلي موټرو ته ۲۰سلنه تعرفه ټاکل شوې ده. دغه راز د ټرافيکو عمومي رياست ته دنده سپارل شوې چې د بې‌اسنادو موټرو د کنټرول لپاره ټاکل شوي احکام او مقررات په پوره توګه پلي کړي.

د برکي څلورلارې د هوايي...

دي ۸۵ سلنه يې پرمختګ کړی او تمه ده چې د ۱۴۰۵ کال تر نيمايي پورې بشپړه او د خلکو د استفادې وړ وګرځي. د يادونې وړ ده، چې د دغې پروژې د پلي کېدو پر مهال شاوخوا ۱۴۰۰ کسانو ته د کار زمينه برابره شوې، چې د ښاري زېربناوو د پراختيا ترڅنګ د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې هم اغېزمنه تمامېږي. بل پلو د کابل ښار اوسېدونکي او موټر چلوونکو خوښي دي او له حکومته غواړي چې د ښاري ګڼې ګونې د زياتوالي له امله د ورته پروژو کارونه لا نور هم چټک کړي ترڅو هېوادوالو ته د تګ راتګ په موخه ګڼې اسانتياوې رامنځته شي.

عقد تفاهم‌نامه همکاری ...

وی افزود: «تلاش ما این است که موانع موجود در برابر تحصیل و اشتغال جوانان را برطرف کنیم، تا آنان بتوانند به آرمان‌ها و اهداف بلند خود دست یابند و در آبادانی کشور سهم مؤثر داشته باشند.» رییس عمومی حفظ آثار جهادی همچنان تأکید کرد که علم، اساس قدرت و پیشرفت جامعه است و هرچه بیشتر جوانان به کسب دانش، تخصص و تقوا تشویق شوند، جامعه نیز به همان میزان مسیر ترقی و توسعه را خواهد پیمود. وی خاطرنشان ساخت که وزارت اطلاعات و فرهنگ آماده همکاری و تعامل با تمامی پوهنتون‌های خصوصی کشور در راستای حمایت از جوانان است. در همین حال، قاری خبیب غفران، سخنگوی وزارت اطلاعات و فرهنگ، اظهار داشت که برای(۱۵۰۰) تن از جوانان زمینه کار به‌صورت آنلاین در بازارهای جهانی به‌عنوان فریلنسر فراهم شده و (۱۹۰۰۰) تن دیگر در بخش‌های فریلنسرینگ، کمپیوتر، گرافیک دیزاین، برنامه‌نویسی و ترمیم موبایل و کمپیوتر آموزش‌های تخصصی دریافت کرده اند. وی افزود که تاکنون حدود(۵۰۰۰) تن از جوانان برای بهره‌مندی از تخفیف‌های تحصیلی به (۴۰) پوهنتون خصوصی معرفی شده‌اند. سخنگوی وزارت اطلاعات و فرهنگ، همچنین تصریح کرد که به منظور ارائه خدمات بهتر به جوانان، با(۳۰) نهاد داخلی و خارجی نشست‌های مشترک برگزار شده و تفاهم‌نامه‌های همکاری نیز به امضا رسیده است. در ادامه، امید وزیری، رییس امور جوانان وزارت اطلاعات و فرهنگ، گفت که یکی از نیازهای اساسی جوانان، برخورداری از تخفیف در هزینه‌های تحصیل در پوهنتون‌های خصوصی بود و خوشبختانه اکنون تفاهم‌نامه‌های همکاری با(۳۰) پوهنتون خصوصی به امضا رسیده است. وی افزود که با عملی شدن این تفاهم‌نامه‌ها، شمار زیادی از جوانان خواهند توانست با هزینه کمتر در رشته‌های مورد علاقه خود ادامه تحصیل دهند. رییس امور جوانان در پایان تأکید کرد که جوانان ستون فقرات جامعه و سرمایه اصلی کشور هستند و هر اندازه به آموزش، توانمندسازی و حمایت از آنان توجه شود، آینده افغانستان روشن‌تر و زمینه توسعه پایدار کشور بیشتر فراهم خواهد شد.

محمد رفیع تیموری

کندهار؛ دامان ولسوالی ...

معياري روغتيايي خدمتونه وړاندې کړي. د عامې روغتيا وزارت په وينا، د دې روغتون جوړېدل به د دامان ولسوالی د روغتيايي خدمتونو په ښه والي کې مهم رول ولوبوي او خلکو ته به د درملنې اسانتياوې لا نږدې کړي.

د يونامانوې مشره دې ...

د پياورتيا لپاره هڅې وکړي. ښاغلي شاهين ويلي: «هيله لرو چې د ملګرو ملتونو نوې استازې د افغانستان د دين، فرهنګ او واقعي وضعيت په رڼا کې د دغه هېواد د ستونزو د حل لپاره هڅې وکړي، د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د لا ډېر تفاهم زمينه برابره کړي، د افغانستان رښتينې انځور نړۍ ته وړاندې کړي او په پای کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان څوکۍ اسلامي امارت ته وسپارل شي.» د ملګرو ملتونو سرمنشي تېره اوونۍ بنکله ديشی ډيپلوماته رباب فاطمه، د افغانستان لپاره د خپلې ځانګړې استازې او د يونامانوې د نوې مشرې په توګه وټاکله، ترڅو د ملګرو ملتونو د مرستندوی پلاوي (يوناما) د فعاليتونو د مشرتابه او ورسپارل شوي مسئوليتونه مخ ته بوزي.

د برېښنايي سکتور د پاورتيا لپاره بنسټيزې...

نوي رئيس د معرفي په مراسمو کې وکړې او زياته يې کړه، چې برېښنا د خلکو له اساسي ارتياوو څخه ده او د دې سکتور د پراختيا لپاره به عملي اقدامات دوام ولري. د څېړونکو په خبره، افغانستان چې د برېښنا د تولید په برخه کې د شاوخوا ۳۲۰ زره مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفيت لري د اسلامي امارت د هڅو په پايله کې دې برخې ته د کنبو پانګوالو پام را اوښتلی دی.

د نورستان غميزه او د اسلامي نظام نه ستړې...

د تجهيز او روزنې په برخو کې لا زيات کار ته اړتيا ده. همدارنګه، بايد د عامه پوهاوي پروګرامونه پراخ شي، څو خلک د طبيعي پېښو پر مهال د ځان او خپلو کورنيو د خوندي ساتنې لازم تدابير وپېژني.

نورستان يوازې د نورستانيانو کور، کلی او ولايت نه دی، بلکې د ټولو افغانانو کلی کور او امانت دی. د دې ولايت د خلکو درد د ټول ملت درد دی او د دوی لاسنيوی زمونږ کلی ملي او اسلامي مسئوليت دی. هيله ده چې د دولت تر څنګ ملي او نړيوال بشري بنسټونه، خيريه اداري او ټول توانمند هېوادوال د زيانمنو کورنيو مرستې ته ورودانګي، څو د دې سترې غميزې اغېزې تر ممکنه حده راکمې او د دوی د ژوند د عادي کېدو زمينه برابره شي.

د بحرانونو پر مهال ملي يووالی، مسئوليت پذيري او عملي همکاري هغه ارزښتونه دي چې هر ملت ته له ستونزو څخه د وتلو ځواک وربښي.

مونږ بايد له داسې پېښو څخه لازم درس واخلو، په راتلونکي کې د داسې ناورينونو د مخنيوي لپاره تدابير پياوړي کړو او د ناورينونو پر وړاندې د چمتووالي کچه لوړه کړو، نو نتيجه به دا شي چې په راتلونکي کې به د ورته غميزو زيانونه تر ډېره راکم او د هېوادوالو ژوند به لا خوندي شي.

عزيزي انرژی شرکت د لس...

سنجی مطالعات بشپړ او د برېښنا د پېر ټرونونه يې لاسليک شوي. کمپټې په خپل راپور کې زياته کړې، چې په ساحو کې عملاً د پروژو چارې پيل شوې دي. د دې ترڅنګ، په ټخار ولايت کې له ډېرو سکرو څخه د ۱۶۵ مېګاواټه برېښنا، په بغلان ولايت کې له ډېرو سکرو څخه د ۳۵۰ مېګاواټه برېښنا، د نغلو او غزني سب‌سټېشنونو د جوړولو او د کابل ولايت له تره‌خپلو سيمې څخه تر صنايع سبز پورې د انتقالي لين د غځولو پروژو پر تخنيکي موضوعاتو بحثونه جريان لري، چې ژر به نهايي شي. دې کمپټې د کارونو د چټکتيا په موخه خپل وړانديزونه هم شريک کړل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دې کمپټې د لاسته راوړنو ستاينه وکړه او اړوندو امارتي ادارو ته يې د کارونو د لا چټکتيا په موخه لازمې لارښوونې وکړې او سپارښتنه يې وکړه چې د دوو اوونيو په جريان کې دې په يو شمېر برخو کې پاتې کارونه بشپړ او راپور دې د اقتصادي معاونيت له مقام سره شريک کړي. ملا عبدالغني برادر اخوند د عزيزي انرژی پانګونې شرکت ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او ترې وې‌پ غوښتل، چې خپل کارونه په ښه ډول او ټاکلي وخت بشپړ کړي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦ / ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Wednesday 22 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1113

د برکي څلورلارې د هوایي پله او ځمکتلي سړک د جوړېدو چارې په ختمېدو دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت خبـر ورکړی، چې د کابل ښـار د برکـي څلورلارې د هوایـي پله او تر خمکې لاندې سـړک د جوړولو پروژه کې د پام وړ پرمختک راغلی دی. د یـاد معاونیت د معلوماتو له مخې، د دې پروژې تولیز لګښـت ۱.۵ میلیارده افغانـی کېږي، چې د اسـلامي امـارت لـه بودیجې تمویلېږي. دغه پروژه د کابل ښار د ترافیکي ستونزو د کمولو، د ښاري نظم د رامنځته کولو او د ترانسپورتي اسـانتیاوو د پراختیا پـه موخه پلې کېږي. د یـاد معاونیت د معلوماتو له مخې، د برکي څلورلارې هوایي پل ۷۰۰ متره اوږدوالی او ۲۰ متره سـور لري، چې د جوړولو چارې پې ۵۰ سلنه بشپړې شوي او ټاکل شوې په روان کال کې بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. همداراز، د پروژې بله برخه، چې تر ځمکې لاندې د سړک جوړول... **۳مخ**

برگزاری کنفرانس علمی درباره سلطان حسین بایقرا در هرات

کنفرانس علمی با محوریت بررسی شخصیت، اندیشه و میراث فرهنگی سـلطان حسـین بایقرا بـا حضور نمایندگان افغانسـتان، ایران و ترکیه در نمایندگی وزارت ارتباط خارجه هرات برگزار شد. مسئولان نمایندگی وزارت خارجـه هرات می‌گویند که هـدف از برگزاری ایـن کنفرانس، معرفی هرچه بیشتر جایگاه علمی، فرهنگی و تاریخی سـلطان حسین بایقرا، گسـترش تعاملات علمی و فرهنگی میان کشـورهای منطقه و فراهم‌سـازی زمینه همکاری‌های

پژوهشـی درباره شـخصیت‌های مشترک تمدنی است. رحمت‌الله فیضان، معـاون نمایندگی وزارت خارجـه در هـرات در گفت‌وگو با خبرنگار آژانس باختر می‌گوید که قرار است در ادامه،... **ص۲**

د پاکستان د جمعیت علماء اسلام مشر مولانا فضل‌الرحمن:

پاکستان امریکا ته پر افغانستان د یرغل زمینه برابره کړې وه

د پاکسـتان د جمعیـت علمـاء اسلام مشـر مولانا فضل‌الرحمن ویلـي: د پاکسـتان حکومت په تېـرو کلونو کـې امریـکا ته پر افغانسـتان د پوځي عملیاتو لپاره اسـانتیاوې برابرې کـړې وې او امریکایـي الوتکو به د پاکسـتان لـه فضا پـه کټـې اخیسـتنې پر افغانستان بریدونه کول.
نومورې ویلي: پاکستان هېڅکله افغانسـتان ته د وسـلەوالو د تک مخه نه ده نیولې.
مولانـا فضل‌الرحمـن د دینـي مدرسـو د ټبټولـو پـر روان بهیر هم نیوکـه کړې او ویلـي یې دي، حکومت د خپلو تـکلارو له لارې د مدرسـو زده‌کوونکـي لاریونونو او تاوتریخوالي تـه هڅوي، ترڅو وروسـته د پوځ له لارې د هغوی د مهارولو لپاره پلمه برابره کړي.

سنګین کې له دوو روغتیایي مرکزونو سره د بېرنیو طبي تجهیزاتو او درملو مرسته

د نړیوال سـره صلیب ادارې د خپلو بشـرپالو خدمتونو په دوام، د هلمند

ولایت په سـنګین ولسـوالی کې د یادې ادارې له لورې د جامع او د چاه بابر روغتیایي کلینیکونو سره د بېرنیو طبي تجهیزاتو او درملو مرسته وشوه.
په دې مرسـتو کې ۵ طبـي کېټونه شـامل دي، چې د فمـي درملنې، وریدي (IV) درملنې، پانسـمان، د جراحي اړونـد بیلابیل درمل او نور اړین تجهیزات په کې شـامل دي، ټاکل شـوې ده، چې یاد تجهیزات د بېرنیو ناروغانو د درملنې، د لومړنیو روغتیایي... **۳مخ**

نړیوال خیریه بنسټونه دې له هېوادوالو سره مرستې زیاتې کړې

المملكة العربية السعودية
KINGDOM OF SAUDI ARABIA
مركز الملك سلمان للإغاثة والأعمال الإنسانية
KING SALMAN HUMANITARIAN AID & RELIEF CENTRE
مشروع الأمن الغذائي والطوارئ في أفغانستان للعام ٢٠٢٥-٢٠٢٦م
FOOD SECURITY AND EMERGENCIES IN AFGHANISTAN FOR THE YEAR 2025 - 2026
په افغانستان کې د خوراکي توکو او بېرنیو مرستو پروژه کال (۲۰۲۵-۲۰۲۶)
پروژه امنیت غذایی و حالات اضطراری در افغانستان برای سال (۲۰۲۵ – ۲۰۲۶)
جهة التنفيذ:

شـریعت: کابـل کـې د ملـک سلمان خیریه بنسـټ له لورې له ۳ زرو کورنیو سـره د خوراکي توکو مرسـته وشـوه، چـې د کډوالو او بېرته راسـتنېدونکو چـارو وزارت مسـئولین یې هر کلی کوي؛ خو د راسـتنېدونکو او داخلـي بې ځایه شـویو لپاره یې بشـپړې نه بولي.
دوی وایي: له کډوالو سره مرسته د ټولو مسـئولیت دی چې تر سره یې کړي، خو دوی لا ډېرو مرسـتو ته ارټیا لري تر څو له سرپناه، پوښاک او خوراکي توکو څخه برخمن شي.
همداشـان کورني او نړیوال خیریه بنسټونه دې له راسـتنو شویو کډوالو سـره مرسـتې ډېرې کړي. په دې هکله د خبرې غونډې... **۲مخ**

سنګ تهداب یک مسجد جامع در لوگر گذاشته شد

سـنگ تهداب یک مسجد جامع در قریـه گردن مربوط ولسـوالی خروار ولایـت لوگر به هزینـه ۴.۷ میلیون افغانی گذاشته شـد. محمد حسن عظیمی، مسئول مطبوعاتی ریاست ارشـاد، حج و اوقاف گفـت: «این مسجد جامع از بودجه انکشافی این وزارت در یک منزل، به شـکل پخته و اساسی در مساحت ۲۵۶ متر مربع زمین ساخته می‌شود، که در یک وقت گنجایش ۶۰۰ نمازگزار را دارا خواهد بود.» به گفته وی، در این پروژه علاوه بر اعمار مسجد، ساخت وضوخانه و سایر ملحقات ضروری نیز شامل بوده و قرار است که کار ساخت‌وساز آن در مدت چهار ماه آینده تکمیل شود.

د نفتو او ګازو دولتي شرکت هېوادوالو ته په مناسبه بیه مایع ګاز رسوي

د افغانسـتان د نفتو او ګازو دولتي شرکت ویلي: د بازار د ثبات ساتلو، د مایـع ګازو د بیو د کنتـرول او د هېوادوالو د ارتیـاوو د پوره کولو په موخه یې په یو شـمېر ولایتونو کې د مایع ګازو د پلـور مرکزونه فعال کـړي، ترڅو خلکو ته اوبلن ګاز په مناسبه بیه وړاندې شي.
د دغه شرکت د معلوماتو له مخې، د مایع ګازو د عرضې بهیر د هېواد په بېلابېلو سیمو کې دوام لري او هڅې روانې دي، خـو د خلکو ارتیاوو ته پر وخت رسـېدنه وشي. مسئولین وایي: د پلور د مرکزونو فعالول د دې لپاره دي چې هېوادوال وکولای شي اړین سونتوکي... **۲مخ**

ده‌ها تُن مواد تاریخ گذشته و قاچاقی در پکتیا از بین برده شد

نزدیک به ۷۰ تُن مواد تاریخ گذشته، بـی کیفیـت و دوای قاچاقـی، در شـهر گردیز پکتیا از بین برده شـد.
فضل هادی نماینـدۀ گمرک پکتیا، به آژانس باختر گفت کـه این مواد در جریان ۳ سـال گذشته از سوی هیئت این اداره ضبط شـده بود که بخش بزرگی آن مواد خوراکی تاریخ گذشته و همچنان نزدیک به ۴ هزار کارتن دوای قاچاقی بی کیفیت بود.
او افزود که مـواد متذکره در حضور نمایندگان نهادهای ذیربط، از سوی هیئت اداره گمـرک پکتیا از بین برده شد. وی اضافه کرد که گمرک... **ص۳**

بارندگی شدید و سیلاب در کاپیسا؛ خسارات مالی بر جا گذاشت

از اثر ریزش باران و سـرازیر شدن سـیلاب در ولسوالی تګاب ولایت کاپیسا خسـارات مالی به بار آمده اسـت. عبدالواسـیع بارکزی، آمر آمادګـی مبـارزه با حـوادث اداره آمادګی مبارزه با حوادث کاپیسـا، به آژانس باختـر گفت که در نتیجه بارندګی‌های شدید و سرازیر شدن سـیلاب در منطقه بدراب ولسوالی تـګاب ایـن ولایـت، نزدیک به ۵۰ جریـب زمین زراعتی شـامل باغستان‌های انار، و ۸... **ص۲**

ایران از حمله بر زیرساخت‌های امازون در بحرین خبر داد

سـپاه پاسـداران ایران، اعـلام کـرده کـه در تازه‌ترین حمله‌هـای خود، زیرسـاخت‌های مرکزی داده‌های شـرکت امریکایی آمـازون در بحرین را هدف قرار داده است. سپاه پاسداران با نشر بیانیه‌ای گفته که زیرساخت‌های شـرکت آمازون را با چندین فروند موشـک کروز هدف قرار داده است. این نهاد هم‌چنان افزوده که سامانه‌ی راداری دفاع موشکی و یک فروند جنگنده اف-۱۵ امریکا در یک پناه‌گاه در اردن هدف حمله قرار گرفته و منهدم شـده است. شرکت آمازون، تا هنوز در این مورد اظهارنظری نکرده است.

هند د بریښنایي الوتونکي ټکسي نوی ماډل نندارې ته وړاندې کړ

د هند د The ePlane Company شـرکت د بریښنایي الوتونکي ټکسي بشپړ پروټوټایپ نندارې ته وړاندې کړ، چې د ښارونو د ترافیکي کنټرول د کمولو او د لنډ واټن هوایي سـفرونو لپاره ډیزاین شوی دی. دغه الوتونکی ټکسي د عمودي الوتنې او کېناسـتلو (VTOL) وړتیا هم لري او د بیټرۍ په وسـیله چلېږي. کارپوهان باور لري، چـې د دې پروژې بریا به د بېرنیو طبي لېږدونو او ښاري هوایي ترانسپورټ په برخه کې مهم بدلونونه رامنځته کړي.

پنتاگون: نزدیک به ۱۰۰ نظامی امریکایی در حملات ایران زخمی شده‌اند

سـخنگوی ارشـد پنتاگون اعلام کرده اسـت که نزدیک بـه ۱۰۰ نظامی امریکایی از هفتم جولای سـال جـاری میلادی در نتیجـه حملات ایران بر پایگاه‌های امریکا در منطقه زخمی شـده‌اند. به گفته شـان پارنل، بیشتر این آسـیب‌ها شامل «ضربه مغزی خفیف» بوده اسـت. او جزئیات مربوط بـه محل این پایگاه‌ها را ارائه نکرده اسـت. این در حالی اسـت که پیش از این فرماندهی مرکزی امریکا(سـنتکام) از کشته‌شدن دو نظامی امریکایی، زخمی‌شـدن چهار تن و ناپدیدشـدن یک نظامی دیگر در حملات ایران بر مواضع امریکا در اردن خبر داده بود.

امریکا پر ځینو کانادایي توکو ۵۰سلنه تعرفه لګوي

د امریکا ولسمشـر ټرمپ ویلي: دوی به د کانادا سـوداکریزې تګلارې ونه زغمـي او متحـده ایالات به د کانادا پـر ځینو محصولاتو ۵۰سـلنه تعرفه ولګوي. سـپینې مانۍ لیکلي: دغه اقدام یې کانادا کې د امریکایي موټرو او نورو توکو پر وړاندې د توپیرې چلند په غبرګون کې کړی دی.
ټرمپ ویلي: کانادا نه یوازې دا چې پر امریکایي موټرو تعرفې لګولي، بلکې په تېرو ۱۲میاشتو کې یې د امریکایي موټرو واردات ۲۲سلنه کم کړي چې له کبله یې د امریکا صنعت ته د میلیاردونو ډالرو زیان اوښتی.
سرچینې زیاته کړې، پر کانادایي توکو تعرفې به د روان کال د اګسټ په ۱۹مه پیل شي.